پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۱۱

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

# د تاوتریخوالي نوی باب

په جګړه ځپلو ټولنو کې، چیرته چې د قانون د حکم پر ځای د ټوپک د شپیلۍ غږ او شپیلۍ غږونکی حکومت کوي، د ټولني له هر قشر سره د هرڅه کیدو امکانات شته، په تیره له ماشومانو او کوچنیانو سره.

د افغانستان په نامه ټولنه کې د ناروا وو او ظلمونو ډیر ډولونه آزمیل شوي، تطبیق شوي او اوس هم جریان لري؛ خو تر ټولو ناروا او ظلم د ماشومانو او کوچنیانو په حق کې شوی او اوس هم په پټه او ښکاره روان دی.

دا په حقیقت کې نه یوازې د هغه ماشوم او کوچني په حق کې ظلم دی چې د ناروا وو، ظلمونو او تاوتریخوالي ښکار کیږي، بلکې د راتلونکي نسل او راتلونکي ټولني په حق کې ستره جفا ده، داسې جفا چې بیا نه جبرانیږي، نه یې پور ادا کیدای شي او د اوس له پاره یې د مخنیوي او اصلاح کومه امید هم نه شي کیدای.

له ماشومانو او کوچنیانو سره زور زیاتي او تاوتریخوالي ډیر ډولونه اوریدل شوي او لیدل شوي دي، خو اوس میډیا وای چې د افغان ماشومانو او کوچنیانو په حق کې د یو نوي ظلم، نوې جفا او نوي تاوتریخوالي ډول په رواجیدو او زیاتیدو دی:

### د مخدراتو په قاچاق او خرڅلاو کې له کوچنیانو نه استفاده کول.

د بي بي سي په یوه تازه راپور کې راغلي دي چې د مخدره توکو په ناقانونه وړو راوړو او خرڅلاو کې د مخدراتو مافیا اوس، اوس له کوچنیانو کار اخلي، هغه هم د دې له پاره چې پر کوچنیانو باندې د شک نظر یا هیڅ نه وي یا لږ وي. کوچنیان په بیلابیلو ډولونو اړ ایستل کیږي چې د مخدراتو قاچاق ته مخه کړي چې اقتصادي ستونزې یې غوټه برخه جوړوي.

د بي بي سي په راپور کې راغلي دي چې څنګه یو شپاړس کلن پلار مړی کوچنی د پلار د لس زره افغانیو د پور په ونج کې د مخدره توکو وړلو ته اړ ایستل کیږي. د دې کوچني داستان د بي بي سي په نوي راپور کې داسې راغلی دی:
«په افغانستان کې پولیس وايي، د تېرو پنځو کلونو په پرتله د نشه يي توکو په پېر، پلور او قاچاق کې له ماشومانو ګټه اخيستل زيات شوي دي.

د نشه يي توکو په کاروبار کې د ماشومانو د ور ښکېلولو يو لامل دا ښودل کېږي چې پوليس پرې لږ شک کوي او سزا يې هم نسبتاً کمه ده.
16کلن احسان چې اصلي نوم يې بل څه دی نژدې لس مياشتې وړاندې کابل ته د راتګ پرمهال د نشه يي توکو د قاچاق په تور و نيول شو.

احسان الله وايي، تېر کال يې پلار مړ شو او د خپلو پوروړو پېټی يې ده ته ورپرېښود.
د هغه په خبره، له پلاره لس زره افغانۍ پور ور پاتې وو، خو ده يې د خلاصولو کومه لار نه لرله:
"هغه کس چې زما په پلار يې پور و، ما ته به يې ويل، که دا نشه يي توکي نه وړې بندي کوم دې، په دواړو ځپليو کې يي نشه يي توکو را ته ځای پر ځای کړل"
احسان په دوه کاله بند محکوم شوی دی چې دمګړی د کابل په اصلاح مرکز کې ساتل کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

احسان د پلار په ژوند هم له سختیو ډک ژوند لاره؛ دی وایي، د اقتصادي ستونزو له امله ترې په ځلورم ټولګي کې ښوونځی پاتې شو او د ښځنتو په بټیو کې یې کار کاوه.»

په دې لړ کې بله غمیزه دا ده چې له کوچنیانو نه د مخدراتو د وړو راوړ ترځنګه، هغوی ته هم اړ باسي چې د مخدراتو په خرڅلاو کې له مافیاي کړیو سره مرسته وکړي.

هغه کسان چې د مخدراتو د قاچاق او خرڅلاو په ترخ کې نیول شوي، په خپلو اعترافاتو کې یې ویلي دي چې د پولیسو ځینو کسانو دوی ته مخدره توکي ورکول چې معتادانو ته یې ورسوي. دې حال ته چې ولیدل شي، د غمیزې لمنه نوره هم توریږي او پراخیږي، پولیس چې خپله دا کار کوي، نو له نورو اړو یا اړکړای شوو کسانو نه څه ګیله ده.
«عزیز ادعا کوي، په هغه سیمه کې چې ده اوبه خرڅولې، یوه امنیتي چاروا کي ورته نشه یي توکي ور کول چې دی یي پر روږدو کسانو وپلوري.»

## څه ډول کیدای شي چې د دې غمیزې مخنیوی وشي؟

شخص، اشخاص، لیکوال، شاعر فرهنګي ځنګه کولای شي چې د یوې مقالي یا شعر په لیکلو سره د دې کار مخنیوی وکړي؟

دولت خپله څه کوي، پولیس باید خپله د دولت د یوې لویې پښې یا یوه تکړه لاس په ډول د دې دیوال د شړیدو او لویدو مخنیوی کړای وای، خو د پولیس پښه هم په دې ګنده ګۍ کې ور ننوتې ده. که د دولت اړوند اراکین او مسؤلې اداری د دې مخنیوي ته نوې لارې چارې ونه سنجوي، دومره به د دې لمن پراخه شي چې د کابل په سیند کې به د اوبو پر ځای په مخدره توکو د روږدو کسانو سیلاو روان وي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ